# د اسلامي حکومت بنسټونه او د خلیفه ټاکل کېدل

پوهنمل محمد شاهد، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه.
برېښنالیک: mohammadshahedshahed@gmail.com

**لنډیز**

دا چې د اسلامي حکومت بنسټونه او د خلیفه ټاکل کېدل ، اوږده تاریخچه لری، څکه په دنیا کې الله ج د بنی آدمانو پلار حضرت ادم علیه السلام خلیفه نومولی او هغه ته یې د خلافت غظیمه دنده سپارلې ده، د اسلامي حکومت بنسټونــــه او د خلیفه ټاکل کېدل له همدې ځایه را پیل کېږي، د خلیفه ټاکل کیدل او د اسلامي حکومت بنسټونه له هغه مو ضوعاتوڅخه دي، چې لوستونکې به تشویق کړي، چې د اسلامي حکومت بنسټونه، خلیفه یا امیر په اړه کافي معلومات لاسته راوړي. د دغه موضوع ، هدف د اسلامي حکومت بنسټونو او د خلیفه ټاکلو شرایطو پېژندل او په اړه یې د روښانه معلوماتو وړاندې کول دي، د دغو معلوماتو په راټولو کې د کتابتوني مېتود څخه ګټه اخېستل شــوې او دمعتبرو موثقو علمي سر چینو څخه په کې استفاده شــوې ده.د دې مقالې په اســاس به هغه نیمګړتیاوې رفع شي، چې لو ستونکي، د خلیفه یا امیر ټاکلو او د اسلامي حکومت بنسټونو په هکله ورسره مخامخ شــوی دي. د څېړنې پایله په اسلامي نظام او اسلامي حکومت بنسټونو، لکه عدالت، اطاعت، شورا، حاکمیت او د امیر د ټاکل کېدو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې او عمده پوښتنو ته به ځواب ووایي او په څنګ کې مو د اسلامي حکومت د خلیفه یا امیر القاب چې په مختلفو وختونو کې علماوو ذکر کړي، څېړلي دي.
**کلیدي کلمې:** اسلام کې شورا، انصاف، اطاعت، د شورا اهمیت، درې ګونې قواوې، عدل.

**موخې**

دا چې د اســلامي حکومت بنســټونه او د خلیفه ټاکلو موضــوع یوه مهمه او د ارزښــت څخه برخمنه موضــوع ده، د دې څېړنیزې مقالې موخه دا ده، چې د اســلامي حکومت بنســټونه او د خلیفه ټاکل او مشخصات به په واضح ډول بیان کړی شي او همدارنګه به د اسلامي حکومت جوړښت او د هغې رول په ښه ډول سره واضح شي.

**د موضوع اهمیت**

دا چې د ا سلامي حکومت او خلیفه ټاکلو مو ضوع یوه حیاتي مو ضوع ګڼل کېږي، نو د دغې مو ضوع اهمیت په دې کې دی چې د اســلامي حکومت او خلیفه رول به په ټولنه کې وپېژندل شي. په څنګ کې به د خلیفه ځانګړتیاوې هم روښانه شي.

**د کار مواد او مېتود**

دا مقالــه د تحليلي څېړنې له ډول څخه ده چې د اطلاعاتو او معلوماتو په راټولولو کې د کتابتوني مېتود څخه ګټه اخيستل شوې ده. په دغه څېړنيزه مقاله کې د معتبرو موثقو علمي سرچينو څخه استفاده شوې ده او هم د څېړنې ټول اساسات په کې مراعات شوي دي.

**سريزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد الله رب العالمين والصلاة والسلام على سيدنا ونبينا محمد وعلى اله واصحابه اجمعين آمابعد:**

د اسلامي حکومت بنسټونه او د خليفه ټاکل د اسلامي حکومت د حياتي مسايلو څخه ګڼل کيږي، دا چې موږ او تاسو ته بهتره معلومه ده چې وضعي نظامونه او قوانين د بشـــر په لاس جوړ شوي دي او د بشــر د ذهن محصول ګڼل کېږي، چې نه شي کولای د ژوند ټولو مشکلاتو ته ځواب ووايي او هم د هر عصر او زمان سره مطابقت وکړي، نو د اسلامي حکومت قوانين د هر عصـر او زمان سره مطابقت کوي، چې هغه د اســلام مبارک دين دی. لنډه دا چې اســلام داســې يو کامل دين دی چې د انســانانو لپاره په سياسي، اجتماعي او اقتصادي برخو کې لارښود او رڼاه ده، نو ما هم په دغه څېړنېزه مقاله کې د اسلامي حکومت بنسټونه، د خليفه د ټاکلو لارې چارې، د اسلامي حکومت د امير اوصاف د اسلامي حکومت درې ګونې قواوې، د خلافت تاريخ او په اسلامي حکومت کې د امير رول او د علماوو بېلابېل نظريات په مفصل ډول سره څېړلي دي.

**لومړی: د اسلامي حکومت تعريف**

اسلامي حکومت هغه سياسي نظام دی، چې د الله جل جلاله له پلوه ټول بشريت ته غوره کړی شوې دی، ټول قوانين او هدايات يې الله تعالى نازل کړي دي، ابـــدي، تلپاتې او جامع دی، زړښت نه لري، ترميم ته اړتيا نه لري، ټول قوانين يې ګټور، وسيع او د بشريت د سعادت متضمن دي، مترقی يو اړخيز دي، مادي او معنوي ارزښت لري، د دنيا او اخرت لپاره دي.

د خلافت يا اسلامي حکومت په اړه علماوو مختلف تعريفونه کړي چې يوځو يې دلته ذکرکوو:

- ابوالبقا حنفي يې داسې تعريفوي: اسلامي حکومت يا خلافت يو تصـرف دی چې امر او نهي د کولو په محور باندې په اسلامي چوکاټ کې څرخي.
- ابوالحسن الماوردي خلافت يعنې اسلامي حکومت داسې تعريف کړی: اسلامي حکومت د دې لپاره جوړېږي چې د اسلام د سپېڅلي دين د ساتنې او د دنيا د نظم او نسق په چلولو کې د نبي عليه السلام نيابت وکړي.
- شاولي الله دهلوي فرمايي: خلافت عبارت له هغه عمومي رياست څخه دی چې عملاً د دين د اقامې په لور متوجه وي( زاهدی، ۱۳۸۳ه ش، مخ ص. ۹۴ ).

## د اسلامي حکومت بنسټونه

### لومړی اصل ـ د خدای ج حاکميت

په سياسي اصطلاح کې اعلی اقتدار يا مطلق ځواک ته حاکميت وايي، نو په دې اساس هغه څوک چې اراده او خوښــه يې د قانون سرچينه او حکم يې په ټولو لوړ وي، د ځواک خاوند او اعلی حاکم ورته وايي، د اســلام د حکومتي نظام او شرعي ســياســت لومړی اصــل دی، چې حاکميت او لوړ اقتدار د مخلوقاتو د څښتن يو صفت دی او د قانون سرچينه انساني عقل نه بلکې الهي وحې ده.

### دويم اصل ـ شورا

د اسلامي حکومتي نظام او اسلامي سياست دويم بنيادي اصل شورا ده. يعني د اسلامي رياست مشر به هم د مسلمانانو د باوري وکيلانو څخه د تشکيل شوې شورا له خوا ټاکل کيږي او د ټاکلو ورو سته به ټولې مهمې او ارزښتناکه پرېکړې د همدې مجلس د تائيد وروسته صورت نيســـي، د اسلام په سياسي فقه کې نوموړې شورا ته اهل و عقد شورا وايي چې غړي به يې متشرع او په ديني تعليماتو پوه خلک وي. نن سبا مسلمانان سيا ست پوهان شورايت ته ا سلامي جمهوريت وايي. د شورا فضليت له قران کريم، احاديثو او اجماع څخه ثابت دی چې د قراکريم دا ايت يې ثبوت دی.

(وامرهم شــورا بينهم) او د مســلمانانو چارې په خپلمنځي مشــورې سره سرته رســيږي، همدارنګه پيغمبرعليه الســلام په ټولو مهمو چارو کې د خپلو اصــحابو کرامو سره مشــوره کوله لکه د بدر، احد او خندق د غزاګانو شوراګانې.

په يوه روايت کې د حضرت عمر رضی الله نه دا ارشاد هم رانقل شوی، چې ( لاخلافه الاعن مشورته ) يعنې له مشورې پرته هېڅ خلافت نه شته. همدارنګه به که ابوبکر صديق رض ته د کومې پرېکړې لپاره د حضـــرت محمد ص سنت په لاس ورنه راغلل نو د خلکو مشـــران ( وکيلان ) او نيک خلک به يې راغونډ کړل او هغوی سره به يې مشوره کوله، همدارنګه عثمان رض د ده د خلافت د انتخاب نه وروسته د خپلې وروستۍ وينا په ترڅ کې وويل، چې د قران او سنتو وروسته به زه د هغې پرېکړې پابند و اوسم په کومې چې ستاسې رايه يوشان وي( ثاقب، ۱۳۹۸ ه ش، صفحه. ۹۵ ـ ۹۶ ).

### درېيم اصل ـ عدالت

د ا سلامي حکومت بل ا صل عدالت، برابري او مساوات دی، د ا سلام مبارک دين ټول بشريت د دې اصـل په لحاظ په خپلو کې سره مساوي بولي، يواځې د نيک عمل کولو سره د دوی ترمنځ په فضـيلت او بهتری قايل دی او الله جل جلاله په عدل او احسان سره فيصله کوي ( ان الله يامربالعدل والاحسان).

د اســلامي حکومت امير بايد عدل اوانصــاف وکړي او هم شرعي ســزاګانې په ځمکه کې تطبيق کړي، چې په ټولنه کې امنيت رامنځته شي او د عادل حکمران يوه ورځ د شـــپيتو (۶۰ ) کالونو نفلي عبادت څخه غوره دی او يوه شرعي ســزا چې د حق او انصــاف په رڼا کې يې په ځمکه قايموي د څلويښــت ( ۴۰ ) ورځو باران څخه ډېر برکت او خير راوړي( ثاقب، ۱۳۹۸ ه ش، صفحه. ۹۷ ).

**څلورم اصل ـ اطاعت**

اسـلامي نصـوص يې څرګندوي چې د اسـلام دين په مسـلمانانو باندې د خپلو اميرانو او اسـلامي امير اطاعت او تابعداري فرض ګرځولې او د هغوی څخه نافرماني يې حرامه ګڼلې ده. (يايهاا لذين امنواطيعوالله واطيعوالرسول واولي الامرمنکم)

ژبـــاړه: ای مومنانو الله جل جلاله او د رسول ص اطاعت وکړئ او د هغه اميرانو اطاعت وکړئ چې له تاسو څخه دي.

دا خبره بايد ذکرکړو، چې د اميرانو اطاعت مطلق نه دی، بلکې د دې لپاره يو حد ټاکل شوی د حديث شريف نقل دی چې د الله ج د معصـيت (نافرنانی) په صـورت کې د اميرانو امر منل نشـته. په لاندې شرايطو پورې د امير اطاعت تړلی دی.

۱ ـ د اولوالامرکړه وړه بايد د شريعت سره برابر وي

۲ ـ د خلکو ترمنځ به په انصاف سره پرېکړه کوي

۳ ـ خلکو ته به په معصيت امر نه کوي (ثاقب، ۱۳۹۱ ه ش، صفحه. ۹۸).

**د اسلامي حکومت درې ګوني قواوې**

**الف: مقننه قوه**

په اوسنيو دستوري حکومتونو کې د قانون جوړولو واک او اختيار د پارلمانونو سره دی، دوی د زمانو او خلکو د غوښتنو او مصالحو پر اساس قوانين او احکام تشـــريع کوي او د پلي کېدو لپاره يې وړاندې کوي، مګر په اسـلامي دولت کې د قانون جوړولو صـلاحيت د مجتهدينو کار دی په دې شرط چې له دوه کارونو څخه پکې تېری ونشـي، په کوم شي کې چې نص موجود وي، يوازې په نص د پوهېدنې او د هغه حکم بيانولو صلاحيت لـري چې پرې دلالت کوي او په کوم شي کې چې نص موجود نه وي نو د دوی دنده يوازې پر منصوص حکم قياس کول او د اجتهاد په واسطه د هغه حکم استنباط کولو او د علت را وسـتل دي ځکه اسـلامي دولت يو اسـاسي الهي قانون دی، چې الله جل جلاله په خپل کتاب کې او د خپل رسـول صـلی الله عليه وسـلم په ژبه بيان کړی دی. نو که په دې قانون کې که چېرته هم نص ومونډل شو نو پيروي يې واجبه ده، د تشـــريع څښتنان نور صلاحيت نه لري، يوازې د مراد حکم پېژنې لټون يې کولی شي ترڅو نص په صـحيحه توګه تطبيق شي او که په دې قانون کې کوم نص موجود نه شو نو د اسلامـــي تشـــريع رجال کولی شي چې د اجتهاد او استنباط له لارې د اساسي الهي قانون سره سم د قياس په واسطه په غير منصوصو ځايونو کې احکام تشريع کوي، پاتې شوه د مجتهدينو شتون، په هره زمانـــه هر اسلامي دولت د اجتهاد اهل خلک لري چې د اجتهاد په شرطونو برابر او بشپړ توان لرونکي دي. هغوی ته د اسـاسي الهي قانـــون د پوهېدنې، تطبيق او نويو پېښـو شـويو قضـيو او مصـالحو او اړتياوو پوره کولو په خاطر رجوع وکړي، تر څو ورته تشريعي احکام جوړ کړي. په لومړۍ هجري پيړۍ کې د اسـلامي دولت لپاره له قـــران کريم پرته کوم مدون اسـاسي قانون نه و، کوم چې د ابوبکر صديق رضی الله عنه د خلافت په دور کې راټول کړای شو، د راشده خلفاوو او اموي دورې په

لومـــړیو کې تشـــریعي قرانکریم او د سنت حافظانو ته رجوع وه که به اصحابو، تابعینو یا تبعه تابعینو څخه کوم اهل شـخص کوم نص ومونــــد متابعت به یې کاوه او که نه په خپله رایه به یې اجتهاد کاوه مګر د دوی دغه اجتهادي رایې نه تدوین شـوې او نه قانون او شریعت وګرځولی شـوې، مګر په دې اعتبار ورباندې تکیه کول کیدای شـوه چې مرجع یې قران او سـنت وو. کله چې د فتحې دایره پراخه او ا سلام په لرې هېوادونو کې خپور شو، د شریعت حافظان او راویان په لرې لرې ناحیو کې تیت او پرک شـول، سره له دې چې د تمدن او بیا رغونې وسـایل هم ډېر وو، د معاملاتو او احوالو په بېلا بېلو څانګو کې نوې نوې پېښــې او قضــیې رامنځته شــوې، د شریعت په احکامو کې د بریالیتوب په خاطر ځینې نشریاتو ته اړتیا پېښه شوه، نو دا چاره د دوو کارونو په حیث پیل شوه:

**لومړی:** د حدیثونو راټولول، ځکه چې د احکامو په خاطر ورته رجوع په کار وه.

**دویم:** مجتهدینو خپل هغه اجتهادات او اصول تدوین کړل چې په استنباط ولاړ وو. د حدیثو د تدوین کار لومړی امام زهره رحمه الله د عمر ابن عبدالعزیز خلیفه په امر پیل کړ. امام زهره ټول هغه حدیثونه چې ورته رســېدلي وو، په کتابي بڼه راټول کړل او عمر بن عـبدالعزیز یې د لومړۍ هجري پیړۍ په وروستیو کې د توزیع امر ورکړ او دویم کار مجتهدینو امامانو د لومړي ځل لپاره تر سره کړ لکه امام ابو حنیفه رحمه الله، امام مالک، امـام شافعي، امام احمد حنبل، امام داود او امام زید بن علي جعفر صادق رحمت الله علهم او داسې نورو. له همدغه مهاله د تشریع څښتنان کتاب، سنتو او د امامانو اجتهاداتو ته رجوع کوي. په دغه کې څه ســتونزې هم شــته، ځکه د امامانو اجتهاداتو ته یواځې د الله جل جلاله په کتاب، سنتو او د احکام په استنباط کې د استعانت په برخه کې د لاربنوونې په خاطر رجوع کیږي نه دا چې دا د دین اصـلي او اسـاسي قانون دی او همدغه د مجتهدینو موخه هم وه. دغه غوښـتل د هغه چا لپاره لاره هموارە کړي، څوک چې غواړي د احکامو اســتنباط وکړي او هم د اســتنباط اهلیت ولري او هغه څوک چې د استنباط اهلیت ونه لري هغوی ته وښیي چې په قران او سنتو باندې حمله ونه کړي. یا په بل عبارت دوی غوښتل چې د راتلونکو کسانو لپاره یوه تشریعي لاره وټاکي.

حقه او سمه خبره دا ده چې پــــه اسلام کې تشریعـــي سلطه په الهي قانون سمباله ده. د دولت لپاره یې بڼکلی نظام وضع کړی، د اجتهاد په شرایطو پوره کسان یې د انتخاب لپاره معلوم کړي، او د هغو شمېر یې محدود کړی، دولت یې د دوی په رایو پابند کړی، او پــــه بېلابېلو وختونو کې یې د مسـلمانانـــو اړتیاوې پوره کړې دي، البته د اجتهــاد د دروازې د بندېدلو لامل همدا و چې نا اهله کسانو د اجتهاد په لور مخه وکړه. بېلابېلې رایې او نظرونه به یې ورکول چې د ټولو رایې او نظرونو یو ځایوالی ممکن نه و. حال دا چې اسلامي دولت هغوی ته اړ و، په دې اساس علماوو ددې ستونزې څخه د خلاصون لپاره د اجتهاد دروازې بندې کړې، غوره او مصلحت په دې کې و، چې داسې تشریعي سلطنتي نظام یې جوړ کړی وي چې تشرــیع او د دوی د رایې ترمنځ وي، ځکه د اجتهاد د دروازې په بندېدلو سره د خلکو اړتیاوې او مصالح ختمیږي. په دویمه پیړۍ کې اسامــه و چې د خلکو اړتیاوو او د ښارونو د مصلحتونو په خاطر اجتهاد ته مخه کړې وه نو ځکه بریالی شــوی هم و، له پورتنۍ څېړنې جوته شــوه چې د فرد

لپاره د اجتهاد دروازه خلاصــول شر منځ ته راوړي او په مجموعي توگه د اجتهاد د دروازې بندول هم ښه نه ده، ځکه په دې سره د تشریع خوځښت درېږي او د ا سلامي قانون د خلکو له مصالحو او گټو څخه بې برخې کېږي، ځکه د خلکو گټې او مصــالح په مجموعي اجتهاد کې نغښــتې وې چې همدا د صحابه کرامو لاره هم وه. ابوبکر صدیق رضی الله عنه به چې د کتاب الله او رسول کریم صلی الله علیه وسـلم سـنتو کې د یوې موضـوع په اړه څه پیدا نه کړل نو د خلکو غوره مشرـان به یې راټول کړل او هغوی سره به یې مشـوره کوله او د رایو له اتفاق وروسـته به یې په پوه شـوي کار فیصـله کوله حضرـت عمر رضی الله عنه هم د ده په څېر وه د اموي دولت په وخت کې به په اندلس کې د قضایي شورا لپاره په قرطبه کې ځانگړی ځای جوړ شـو، د شـورا غړي سـتر علماوو د حکمونو په ثبوت کې همدوی ته رجوع کېدله، همدا لامل و چې د اندلس علماوو د ډېرو په پېژندگلویو کې لیدل کېږي، پلانی مشـاور و یا پلانی یې شورا ته غوښتی خو هلته نه تلو امام قرطبي د دې شورا یادونه داسې کړې ده، دې شورا د امام سره په څو مســلو کې مخالفت وکړ چې په هغوی کې د امام ابوالقاســم په قول عمل وشــو، د دیارلسمې پېړۍ په پای کې عثماني دولت هم د دې لپاره چې ا سلامي خوځښت ونه درېږي د امت له علماوو څخه یو ټولی جوړ کړ. چې ( جمعة المجلة ) نومېده، هغوی د حنفي مذهب له کتابونو څخه وو (زیرکیار، ۱۳۸۱ ه ش، مخ ص. ۵۵ ).

**ب: قضایه قوه**

په ا سلام کې د دې قوې واک د قضا د څښتنانو سره دی. په او سنیو حکومتونو کې د قضا څښتنان د تشـــریع له څښتنانو څخه بېل خلک دي ترڅو د قواوو ترمنځ بېلتون راشي، خو د اسلام په لومړنیو کې تشــــریعي قوه او قضایي قوه د یو تن په لاس کې وې، او د دواړو د واک والا خلیفه وکه کوم ښکاره دلیل به یې وموند په هغه به یې پریکړه کوله او که پیدا به یې نــه کړله فقیه او مفتیانو اصحابو سره به یې مشوره کوله او چې په کومه خبره به یې رایه راغله په هغه به یې پریکړه کوله، هغه څوک به چې د خلیفه له لوري په قضا وگمارل شو نو ورته کار به یې کاوه، په دې اساس د قضا څښتنان هغه مجتهدین وو چې د دوی سره د تشرـیع د قوې پوره واک و، د دوی قانون کتاب الله، صـحیح سـنت او د ټولو اجماع وه. امام بغوی رحمه الله له میمـــــون بن محران څخه نقل کوي چې ابوبکرصـدیق رضی الله عنه ته به کله دعوه راغله د هغه حل به یې په کتاب الله کې کتلو، که حل به یې پکې پیدا کړو په هغه به یې پریکړه کوله، که په کتاب الله کې به یې پیدا نکړو، د رسول الله صلی الله علیه و سلم سنت به ده ته په دغه اړه معلوم وو، په هغه به یې فیصـله کوله، که په دې اړه به ورته معلومات لاسـته رانغلل له مسـلمانانو څخه به یې پو ښتنه کوله، ویل به یې ماته دا سې مسله راغلې ایا تا سې ته په دې اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم کومه پرېکړه معلومه ده؟ ډېرځلې به صحابه ورته راغونډ شول، هر یوه به د هغه مسلې په هکله د رسول الله صلی الله علیه وسلم پرېکړه یادوله، ابوبکرصدیق رضی الله عنه به ویل ټوله ثنا هغه ذات لره ده چې په موږ کې دا سې خلک شته چې د خپل نبی کریـم صلی الله علیه و سلم خبرې یادوي که سره له دې به یې هم د مسـلې په هکله له چا څخه څه وانه وریدل د خلکو مشـــــران او غوره خلک به یې

راټول کړل او له هغوی سره به یې مشــوره کوله، چې په کومه خبره به یې رایه راغله په هغه به یې پرېکړه کوله، عمر رضـــی الله عنه هم د ابوبکرصـــدیق رضـــی الله عنه په څېر کار کاوه خو که ده به په قران او سنت کې څه پیدا نه کړل نو پوښتنه به یې کوله چې ایا د ابوبکرصدیق رضی الله عنه په دې سلسله کې کومه پرېکړه شته؟ که وه په هغه یې فیصله کوله او که نه به وه د مسلمانانو مشـــران به یې راټول کړل هغوی به چې اجتماع وکړه، په هغه به یې فیصـــله کوله خو لومړنی خلیفه چې د قضـــایه قوې لپاره یې څرګند تن وټاکه عمربن خطاب رضی الله عنه و. ابو دردا رضی الله عنه یې مدینه کې په قضا وګماره. شریح یې په بصره کې او ابوموسی الاشعري یې په کوفه کې په قضا وګمارل، دا اصحابه یې په شریع او قضا دواړو ګمارلي وو.

د قاضیانو د ګمارنې په کتاب کې راغلي چې عمررضی الله عنه ابوموسی اشعري رضی الله عنه ته لیک لېږلی و. د هغې په یوه برخه کې داسې راغلي وه. که د رېښېدونکي کار حل په قران کریم او سنت کې ښـــکاره نه و، نو له فهم او زیرکتیا څخه کار واخله. هرکله چې مجتهدینو خپل اجتهادات تدوین کړل د قضـــاء څښـــتنانو به هغه مرجع وګڼله او د قاضـــیانو ټول کړه وړه د هغه مطابق کول او مجتهدینو تقلید یې کاوه، ان تر دې چې د جاهل قضاء درسته ده د بل په فتوا سره.

له پورته متن څخه څرګنده شوه چې په اسلامي حکومتونو کې قضاء دوه ډوله وه:

۱ـ د قاضیانو د رجوع ځای اساسي قانون و، د قضایي قوې سره یو ځای د تشریع قوه هم وه.

۲ - د قا ضیانو مرجع دایمه اجتهاد وه، دوی یواځې تقلید کاوه. د قا ضیانو د ټاکنې واک د خلیفه سره و، کله کله به خلیفه ټاکنې کولې او کله به یې واک د ښـاررونو والیانو ته ورکاوه چې قاضـی وټاکي. په دغه باندې د علي بن ابي طالب رضـی الله عنه هغه خبره دلالت کوي چې اشـترالنخعي یې کله چې د مصرـ والي وټاکه، نو هغه ته یې وویل چې بیا د خلکو د پرېکړو کولو لپاره د خپل رعیت څخه غوره شـــخص وټاکه، یعنې داسې شخص چې په دوی باندې چارې تنګې نه کړي. داسې هم نه وه چې د خلیفه واک پکې سلب، و بلکې والي د هغه نیابت کاوه.

**ج: اجرائیه قوه**

په اوســـنۍ معاصره اصـــطلاح کې د دولت رئیس، وزیران، والیان او نور د دولت ټولو کارکوونکو ته اجرائیه قوه وایي. د دولت رئیس د مقننه اوتنفیذي دواړو قواوو ترمنځ د وصـــل رول ترسره کوي، د دغه اجرائیه قوې په راس یعنې سر کې خلیفه وي او د هغه لپاره شورا ټاکل شوې وي چې هغه به د شورا د مشورې په واسطه امورات ترتیب او تنظیم کوي همدارنګه د هر ولایت لپاره والي لېږل کېږي.

لکه څرنګه چې د حضرـــت محمد صـــلی الله علیه وســـلم خپله معاذ بن جبل یمن ته د والي په صـــفت لیږلي و. ځینې خلک وایي چې عربو د وزیرکلمه د ایران د سا ساني پاچاهانو څخه اخیستي ده، خو دا خبره غلطه او رد ده، ځکه د اســـلام نه مخکې په عربي ژبه کې دا خبره مروجه وه، په قران کریم کې د وزیر کلېمه په دوو ځایونو کې راغلې ده، الله جل جلاله په طه ســـورت کې فرمایلي چې ترجمه یې داســـې ده: موسي (ع) وویل اې زما ربه زما د کور څخه یو وزیر راکړې زما ورور هارون (ع) په وســـیله

زما ملا تړینگه کړي او هغه زما سره په کارونو کې شریک کړي. د دغه ایت څخه معلومیږي چې د حکمران د هم فکره او هم مسلکه خلکو څخه باید وه اوسي. دوهمه خبره دا ترېنه معلومیږي چې وزیر د حکمران د ریاست د نظم د چلولو مسؤل او د هغه په کار کې شریک وي.

الله جل جلاله د موسي (ع) دعاء قبوله کړه، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم وزیران هم وو، چې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه په دغه اړه روایت شوی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل (ثم نظرفي قلوب العباد فاختارله اصحابا فجعلهم انصاردینه وزرانیبه) ترجمه: بیا نو الله جل جلاله د دغه وروسته د خپلو بندگانو زړونو ته کتل نو د هغه لپاره یې دا سې ملگري انتخاب کړل چې د دین کومک کوونکي او د نبي کریم صلی الله علیه و سلم وزیران وو. همدا رنگه د ابو سعید خدري په یو روایت کې راځي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

فاما وزیرامن اهل الارض ابوبکر(رض) وعمر(رض) ترجمه: یعنې د ځمکې د اوسیدونکو څخه زما وزیران ابوبکرصدیق رضی الله عنه او عمررضی الله عنه دی. همدارنگه د جهاد یو امیر په اجرئیه قوه کې ضروري دی لکه څرنگه چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د خپل وفات په وخت کې اسامه بن زید رضی الله عنه د جهاد عمومي امیر مقرر کړی و او دارنگه په اجرائیه قوه کې ځینې نور امورات هم شته، مثلاً د مالیاتو راټولول، د مظلومانو شکایاتو اوریدل، د پولیسو چارې او ځینې نور اومورات (زیرکیار، ۱۳۸۱ ه ش، صفحه. ٦٠).

## د خلیفه د ټاکلو لارې

### الف: د خلافت تاریخ

د اسلام سیاسي نظام تاریخ خورا لرغونی دی، دومره لرغونی دی، څومره چې په ځمکه کې د انسان اوسیدو او سکونت تاریخ لرغونی دی، څکه الله ج د بنیادمو پلار (حضرت ادم علیه السلام) خلیفه نو مولی دی او د لومړي ځل لپاره یې هغه ته د خلافت عظیمه دنده سپارلې ده. لکه څرنگه چې الله جل جلاله په قران کریم کې فرمایلي دي:

«واذ قال ربک للملکة انی جاعل فی الارض خلیفة» ترجمه: او یاد کړه هغه ورځ چې ستا رب پرښتو ته وویل چې بېشکه زه په ځمکه کې د یو خلیفه گرځوونکی (پیدا کوونکی) یم.

دا باید هم ذکر کړو، چې د ا سلام په سیاسي نظام کې د ا ساسي قانون سرچینه د الله تعالی مقدس ذات دی او الله تعالی حقیقي حاکم دی د خلیفه او حاکم دنده د خپل ځان په گډون په بشریت باندې د الله جل جلاله د قانون پلي کول دي او بس.

### ب: د خلافت جوړولو حکم

په دې اړه ټول علماء او مذاهب متفق دي چې د اسلامي خلافت جوړول یو فرضي حکم دی او د فرضیت دلیل یې د قران کریم په لاندې ایت شریف کې په روښانه ډول څرگندېږي.« یایهاالزین امنوآ طیعوالله وآطیعواالرسول وآولی الامرمنکم» .

دا باید ذکر کړو چې د ا سلام په سیاسي نظام کې د ا ساسي قانون سرچینه د الله جل جلاله مقدس ذات دی او الله ج حقیقي حاکم دی د خلیفه او حاکم دنده د خپل ځان په ګډون په بشریت باندې د الله جل جلاله د قانون پلي کول دي او بس.

د دې لپاره چې د اسلامي حکومت چارې په ښه توګه په مخ لاړې شي نو یو امیر (خلیفه) باید لاندې مشخصات ولري.

۱ ـ خلیفه باید بالغ وي.

۲ ـ خلیفه باید هوښیار وي او عقلي خلل ونه لري.

۳ ـ خلیفه باید مسلمان وي.

۴ ـ خلیفه باید دنیوي او اخروي علم ولري.

۵ ـ خلیفه باید نارینه وي، ښځه نه شي کولی چې د خلافت چارې پرمخ یوسي.

۶ ـ خلیفه باید تقوه ولري (له ګناهونو پاک وي)

۷ ـ خلیفه باید عادل وي

۸ ـ خلیفه باید جسمي سالمیت ولري

۹ ـ خلیفه باید شجاع وي

۱۰ ـ خلیفه باید ازاد وي (غلام نه وي)

۱۱ - قریشیت د عمومي خلافت لپاره صدق کولی شي، قریشي قوم د محمد صلی الله علیه و سلم قوم دي او د نوموړي قوم نه باید خلیفه وټاکل شي ځکه مرکزیت هماغلته دی.

۱۲ ـ ځان نه کاندیدول ځوک چې په خپله ځان لپاره منصب غواړي الله جل جلاله له هغه سره مرسته نه کوي (رحمانی، ۱۳۸۳ ه ش، صفحه. ۵۵).

**۱ ـ انتصاب**

خلیفه د ټاکلو د لارو چارو څخه یوه د انتصاب طریقه ده. لکه څرنګه چې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ټاکل شوی، یعني کله چې حضرت محمد صلی الله و سلم وفات شو نو هغه لا دفن شوی نه و، چې په مدینه کې اصحاب راټول شول او ویې ویل چې راتلونکی امیر به له انصارو څخه وي، ځکه چې موږ د همدې ځای څخه یو مګر کله چې د ابوبکرصدیق رضی الله عنه او عمررضی الله عنه خبر شول هغوی لاړل او عمررضی الله عنه دا سې فیصله وکړه، چې ابوبکر رضی الله عنه لاس یې اوچت کړ او خپل لاس یې د هغه په لاس کېښود او ویې ویل چې زموږ امیر به ابوبکررضی الله عنه وي ما ورسره بیعت وکړ او تاسې هم ورسره بیعت وکړئ. نو انصار هم چوپ شول بیا ابوبکر صدیق رضی الله عنه مسجد نبوي ته ورغی او خطبه یې وویله او له ټولو خلکو څخه یې بیعت واخیست.

**۲ ـ د ولیعهد په شکل**

دا په دې معنا چې کله یو امیر وفات کېږي، نو د وفات مخکې خپل ولیعهد ټاکي،کله چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه ناروغ شو د کبارو صحاب وو یوه ډله یې راټوله کړه او ورته یې وویل که ستا سو

خو ښه وي نو عمر رضی الله به زما څخه وروسته د خلافت چارې مخ ته وړي، هغوی هم اجازه ورکړه او له هغې څخه یې یوه وصـیت نامه ولیکله او په دې کې یې ولیکل چې عمر رضـی الله به د خلافت چارې سرته ورسـوي هماغه و چې کله ابوبکر رضـی الله عنه وفات شـو عمررضـی الله مسـجد نبوی ته راغی او خلکو ته یې وویل چې زه ستا سې لپاره خلیفه ټاکل شوي یم، مگر زه پر تا سې کوم فوقیت نه لرم، نو که سـتاسي خوښـه وي ځان لپاره خلیفه وټاکئ او یا زما سره بیعت وکړئ نو ټولو خلکو د عمر رضی الله عنه سره بیعت وکړ (گوهر، ۱۳۸۳ هـ. ش، صفحه. ٦٦).

**۳ ــ د انتصاب په شکل**

کله چې حضرت عمر رضی الله عنه د مجوسي غلام له خوا زخمي شو، نو د بې هوشۍ حالت ور باندې راغی او کله چې لږ په خود شو ویې لیدل چې حالت یې خراب دی. نو شپږ کسیزه شورا یې راوغوښته چې تاسې که هرڅوک غواړی خلیفه یې کړی. دغه شپږ کسانو حضـــرت عثمان رضی الله او حضرت علي رضـی الله نامزد کړل او دا فیصـله یې وکړه که هر یو د دوی څخه غواړي چې خلیفه دې شي، نو د عبدالرحمن بن عوف کور ته دې ورشي او خپله رایه دې څرگنده کړي، خلک په انفرادي ډول د عبدالرحمن کور ته ورتلل او رایه به یې ورکوله چې بالاخره د حضـرت عثمان رضی الله عنه رایې زیاتې شوې او خلیفه وټاکل شو.

باید ووایو چې د امیر، رئیس، امام یا خلیفه لپاره د وخت او مودې هېڅ تحـــدید نـــه شته او کله چې مســلمانانو نېغ په نېغه یا د نماینده گانو په واســطه له امیر سره بیعت وکړ، بیا نو هغه تر مرگه پورې د اســلامي امت امام او رئیس دی، مگر دا چې د هغه د عزل کولو عوامل امت دی اړ باســې، چې هغه د ریاست او امامت له عظیمې دندې څخه عزل کړي او هغه اسباب او په لاندې ډول ښودلی شو.

۱ ـ لېونتوب

۲ ـ د ځینې حواسو فقدان د حکومت امام او مشـــر د جسم داسې حواس بیخي له لاسه ورکړي چې په هغوی سره ادراک کوي لکه په دواړو سترگو ړندیدل.

۳ ــ د اندامونو فقدان، مثلاً امام دواړه لاسونه یا پښې له لاسه ورکړي.

۴ ــ بندي کېدل، که خلیفه د بیعت وروسته بندي شي، معزول گڼل کېږي.

۵ ـ کفر او ارتداد: که چېرې امیر یا خلیفه کافر شي او له اسلام څخه مرتد شي عزل کیدی شي.

٦ ـ که امام فاســق شي مثلا د شــهوت او نفس په متابعت کبیره گناهونه کوي، لکه زنا، د ســاز او سرود محفلونو جوړول او نور فســق او فجور یې وکړل، امام ابن الهمام حنفي او شــیخ الاســلام ابن تیمیه او دا سې نورو ویلي دي چې د اهل سنت والجماعت پرېکړه دا ده، چې که د فا سق امام په عزلولو سره په امت کې فتنه نه جوړیده نو هرو مرو دې عزل شي، مگر که فتنه ورڅخه جوړیده، نو د امت د وحدت په خاطر باید عزل نه شي (ثاقب، ۱۳۹۸ ه ش، صفحه. ۱۰۰).

**۴ ـ د اسلام په سياسي نظام کې د دولت د مشر نومونه او القاب**

د اسلام په سياسي نظام کې د اسلامي دولت د مشر لپاره درې نومونه او د القاب ذکر شوي. خليفه، اميرالمؤمنين او امام.

**الف: خليفه**

خليفه په لغت کې هغه چاته ويل کېږي، چې د بل چا ځای ناستی وي او د هغه نيابت کې د چارو سرپرستي په غاړه واخلي.

دا چې د اسلامي دولت مشر څخه وروسته د هغه د دندو د سرته رسولو لپاره د هغه پرځای کېني د هغه نايب وي، نو ځکه ورته خليفه وايي، لومړنی شخص چې د خليفه لقب ورکړل شو، حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه و.کله چې ابوبکرصديق رضی الله عنه خليفه شو؛ نو يو صحابي ورته وويل (ياخليفه) يعني اې د الله خليفه، ابوبکرصديق رضی الله عنه درته وويل: (لست خليفه الله، ولکني خليفه رسول الله صلی الله عليه وسلم).

ژباړه: زه د الله خليفه نه يم، ليکن زه د رسول الله صلی الله عليه وسلم خليفه يم.

**ب: اميرالمؤمنين**

د اميرکلمه د امر او امارت څخه اخيستل شوې ده او جمع يې امراء دي، چې د ولايت په معنی ده د اميرالمؤمنين لقب اطلاق د اسلامي دولت په مشر باندې کېږي، د دې لقب لومړی اطلاق په عمربن الخطاب رضی الله عنه باندې وشو، صحابه کرامو د خلافت د دورې په پيل کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د خليفه په نوم ياداوه، څه وخت وروسته بيا د مغيره ابن شعبه رضی الله عنه په واسطه د اميرالمؤمنين په لقب ونومول شو.

**ج: امام**

امام د اسلامي دولت د مشر لقب دی، په عربي قاموسونو کې امام هغه شخص ته ويل شوي دی، چې د خلکو پېشوا وي او د هغه پيروي کوي نو دا چې د اسلام دولت مشر ـ پيروي او اطاعت په خلکو فرض دی له دې امله د اسلامي دولت مشر ته امام ويل کېږي.(زيرکيار، ۱۳۸۱ ه ش صفحه. ۴۴).

**پايله**

په پايله کې ويلي شو، چې د اسلامي سياسي نظام تاريخ خورا لرغونی دی، د اسلام په سياسي نظام کې د اساسي قانون سرچينه د الله جل جلاله کتاب دی بلې خوا د اسلامي نظام يا حکومت لپاره علماوو زيات تعريفونه کړي دي، د اسلامي نصوصو څخه څرګنديږي چې د اسلامي سياسي نظام د تطبيق او په ټولنه کې د امنيت رامنځته کولو لپاره اسلامي نظام بايد په درې ګونو قواوو او ځينو اصلونو په اساس ولاړ وي، چې دغه اصلونه عبارت دي له شورا چې دغه شورا د مسلمانانو له باوري وکيلانو څخه تشکيل شوي او بل اصل يې عدالت دی، يعنې بايد د خلکو ترمنځ عدالت، برابري او مساوات مراعات شي. بل اصل اطاعت او خبره منل دي، د اسلام دين په مسلمانانو باندې د خپلو اميرانو اطاعت فرض

کړې دی. بل ا صل حاکمیت دی، یعنې د الله حکم چې په ټولو لوړ او د مخلوقاتو د څښتن یو صفت دی.

**وړاندیزونه**

۱ ـ د اسلامي حکومت اتباع باید د خپل امیر او خلیفه اطاعت وکړي.

۲ ـ د اسلامي حکومت امیر او خلیفه باید په خلکو کې د عدالت او برابری راوستلو لپاره هڅه وکړي.

**مأخذونه**

احمدزی، زاهدی.( ۱۳۸۳ ه ش ). اسلامي نظام او جمهوریت لومړی ټوک. پښور: امیرکړو کتابتون.

ثاقب، نقیب الله .(۱۳۹۸ ه ش ). عمومي اساسي حقوق، جلال اباد، یارخپرندیه ټولنه.

خلاف، عبدالوهاب.(۱۳۹۱ه ش ). السیاسة الشرعیة ژباړن: قاري روح الله نجم، ضیاء کتاب پلورنځی، اسحق زی مارکیټ، جلال اباد.

رحمانی، محمدشریف.(۱۳۸۳ ه ش). سیاست او اقتصاد د اسلام په رڼا کې، پېښور پیغام خپرندویه ټولنه.

زیرکیار، رحمت ربي.( ۱۳۸۱ه ش ). سیاسي فکرونه او سیاسي نظامونه په اسلامي او لویځه نړۍ کې جرمني، افغان کلتوري ټولنه.

کوهستانی، محمد جعفر.( ۱۳۹۳ ه ش ). عمومي اساسي حقوق، کابل مستقبل خپرندی ټولنه.

ګوهر، ګوهرالرحمن.(۱۳۸۳ ). اسلامي سیاست، ژباړه: قریب الرحمن سعید، پېښور: پیغام نشراتي مرکز.

صافی، ودیر. (۱۳۸۳ ه ش). حقوق عمومي، کابل افغانستان د ستری محکمې د خپرونو څخه.

# Institutions of Islamic government and the appointment of the caliph

Senior teaching assistant Mohammad Shahed, Shaikh Zayed University, Law and Political Science Faculty, Political Science and International Relations Department.
**Email Add:** mohammadshahedshahed792@gmail. com

**Abstract**

The special focus of this article is on the selection of the Caliph on the foundations of the Islamic government and on the three forces of the Islamic government. The issue of the selection of the Caliph and the three forces of the Islamic government is an important issue that the foundations of the Islamic government and the selection of the Caliph play an important role in the formation of the Islamic government and is considered an important part of the strength of the Islamic government. Therefore, in this study article, the foundations of the Islamic government, the methods of appointing the Caliph, the Islamic government of Amir characteristics, history of hilafat, the order of Hilafat and the three forces of the Islamic government, and the main role of three forces in the Islamic government or caliphate, have been discussed in every way. Different definitions and opinions of scholars about the Caliphate or Islamic government are also mentioned.

**Keywords:** Shura, Justice and Equity, Obedience, Importance of Shura, Tripartite Forces.